# Higher Education Weekly

Ministry of Higher Education

https://mohe.gov.af

شماره یکصدو نودم - سال نهم- ثور ۱۴۰۱ هـ.ش


## معین مالی و اداری با هیئت اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی دیدار نمود



مولوی حافظ محمد حامد حسیب معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی با هیئتی از اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی دیدار کرد.

معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی در دیدارش با هیئتی به ریاست بریالی ابدالی رئیس ساده سازی پرو سه کاری اداره ا صلاحات اداری و خدمات ملکی گفتگو نموده و به منظور تسهیل در امور اداری و ارائه خدمات بهتر سخنان این هیئت را استماع نمود.

دو طرف همچنان خوا ستار ت شکیل کمیته م شترک برای تسهیل در امور اداری گردیده تأکید کردند که با استفاده از روش های جدید بتوانند در وقت کم دستاورد های بیشتر داشته باشند.

۷

## نشست شورای معینیت علمی دایر شد



نشست شورای معینیت علمی وزارت تحصیلات عالی تحت ریاست دوکتور لطف الله خیرخواه معین علمی این وزارت دائر شد.

۶

## د مالي او اداري معينيت د رئيسانو انسجام ناسته ترسره شوه



د لوړو زده کړو وزارت د مالي او اداري معين مولوي حافظ محمد حامد حسيب په مشرۍ د مالي او اداري معينيت رئيسانو سره د انسجام ناسته ترسره شوه .

ياده ناسته، چې د قرانکريم په مبارکو ا ياتونو سره پيل شوه وربسې د اجنډا مطابق د تېرې ناستې پريکړو ته لنډه کتنه وشوه

۷

## مؤسسه تحصیلات عالی ملالی مورد ارزیابی قرار گرفت

هیئت نظارت و ارزیابی وزارت تحصیلات عالی در سفر به ولایت کندهار، به هدف نظارت و ارزیابی نهاد های تحصیلی خصوصی، کارش را از مؤسسه تحصیلات عالی ملالی آغاز کرد.



ریاست این هیئت را قاضی عبدالباری غفاری آمر نظارت و ارزیابی برنامه های لیسانس نهاد های

۷

## د طبي پوهنتون او تدريسي روغتونونو ۲۵ اداري کارکوونکو د ظرفيت لوړوني څلور ورځنۍ ورکشاپ پای ته ورسېد



په لوړو زده کړو وزارت کې د طبي پوهنتون او تدريسي روغتونونو ۲۵ اداري کارکوونکو د

ظرفيت لوړوني څلور ورځنۍ ورکشاپ په بريالۍ توګه پای ته ورسېد .

ياد روزنيز ورکشاپ د لوړو زده کړو وزارت بشري سرچينو د رياست له لوري جوړ شوی و، چې د طبي پوهنتون او تدريسي روغتونونو ۲۵ تنو اداري کارکوونکو ته پکې د اداري کارونو، اصولو او مقرراتو په اړه زده کړې ورکړل شوې، چې په ورځنيو چارو کې د غوره خدمتونو وړاندي کولو لپاره ګټه ترې واخلي.


**گرانه لوستونکيه!**

که تا سې غواړئ چې ستا سو ليکنې په لوړو زده کړو اونيزه کې خپرې شي، نو کولای شئ چې خپلې ليکنې، نيک نظرونه او سالم وړانديزونه په لاندې پتو را وليږئ.

**خوانندگان گرانقدر!**

تقاضامندیم نظریات و پیشنهادات تان را جهت بهبود نشرات این هفته نامه با ما شریک نموده و همچنان مطالب و نوشته های تان را جهت نشر در این هفته نامه از طریق ایمیل و یا به شکل مستقیم به ریاست اطلاعات، نشرات و روابط عامه ارسال دارید.



صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی

مدیر مسوول: مديرجان کوټوال

هیأت تحریر: اخترمحمد عبیر، محمد اسلم اسلم و ناصر خان شيرزی

گزارشگران: کاوون رمز، محب الله اميري و قاسم جويا

تصوير بردار: احمد سير معرفت

صفحه آرا: عنايت الله حنيفی

مصحیح: الفت الله حليم

جمع آوری مواد هفته نامه: زمری يعقوبی

نشانی: کارته چهار, کابل افغانستان

سال تاسیس: ۱۳۹۱ خورشیدی

تیراژ: ۲۵۰ نسخه

محل چاپ: مطبعه ریاست نشرات وزارت تحصیلات عالی

وب سایت وزارت:www.mohe.gov.af

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۳۲۵

آدرس الکترونیکی:ministrymohe@gmail.com




## د ديني جامعاتو او تخصصاتو لوی رياست ودانۍ پرانېستل شوه

د لوړو زده کړو وزارت تر چتر لاندې د ديني جامعاتو او تخصصاتو لوی رياست ودانۍ پرانېسته وشوه.

په همدې موخه جوړه شوې غونډه کې چې د قرانکريم په مبارکو اياتونو سره پيل شوه، د لوړو زده کړو سرپرست وزير الحاج مولوي عبدالباقي حقاني، د کانونو او پطروليم سرپرست وزير شيخ شهاب الدين دلاور، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر سرپرست وزير شيخ خالد حنفي، د پوهنې وزارت سرپرست وزير شيخ نورالله منير، د علومو اکاډمۍ رئيس شيخ فريد، يو شمير علماء کرامو، د اداراتو رئيسانو، مسؤلينو او د ياد رياست کارکوونکو ګډون کړی وو.

په ياده غونډه کې د لوړو زده کړو سرپرست وزير الحاج مولوي عبدالباقي حقاني تولو راغلو مېلمنو



ته د ښه راغلاست ويلو ترڅنګ وويل،" د ا.ا.ا له فتحې وروسته مونږ په دې هڅه کې وو، چې د علماء کرامو د اسنادو ارزيابي او د تخصصاتو په برخه کې فعاليت ترسره کړو، چې په همدې موخه نن ورځ د ياد رياست ودانۍ پرانېسته او د پنځو تخصصاتو

۷

## سرپرست وزارت تحصیلات عالی با نماینده خاص سازمان ملل متحد در بخش حقوق بشر دیدار نمود

مولوی عبدالباقی حقانی سرپرست وزارت تحصیلات عالی در دفتر کارش با نماینده خاص سازمان ملل متحد در بخش حقوق بشر برای افغانستان، دیدار نمود.

در این دیدار سرپرست وزارت تحصیلات عالی ضمن خوش آمدید به ریچارد بینت نماینده خاص سازمان ملل متحد در بخش حقوق بشر برای افغانستان، پیرامون وضعیت تحصیلات عالی کشور معلومات داده از وی خواست تا جریان دروس پوهنتون های افغانستان را از نزدیک دیده و سپس در مورد قضاوت نماید. موصوف هم چنان از نماینده خاص سازمان ملل متحد خواست تا نظام تحصیلی افغانستان را کمک نمایند.



در این دیدار نماینده خاص سازمان محلل متحد در بخش حقوق بشر برای افغانستان، از سرپرست وزارت تحصیلات عالی سپاسگزاری نموده گفت که پس از بررسی های لازم گزارش خویش را به بخش حقوق بشر سازمان محلل متحد ارسال خواهد کرد.

## هېواد ته راستانه شوي علمي کادرونه وستايل شول



د لوړو زده کړو وزارت هېواد ته راستانه شوي علمي کادرونه د يوه ځانګړي تشويقي پروګرام په ترځ کې وستايل .

د لوړو زده کړو وزارت شاوخواه ۱۰۰ تنو هغو استادانو ته، چې بهر ته د لوړو زده کړو لپاره تللي وو، د يوه ځانګړي پروګرام په ترځ کې ښه راغلاست ووايه او د هغوی د ملي او علمي احساس قدرداني يې وکړ .

د ياد پروګرام پرانېسته او د ښه راغلاست وينا د لوړو زده وزارت د بورسونو تنظيم

۷

## د کابل پوهنتون د ماسټري پروګرامونو ازموينه واخيستل شوه

ياده ازموينه د کابل پوهنتون د اګرانومي، شريعت او قانون، برق، وترنري، حيواني علومو، پښتو ادبياتو، عربي ادبياتو، تفسير، حديث، تجسمي هنرونو، اداره او عامه اړيکو په څانګو کې وه، چې ۲۴۰۰ داوطلبانو ګډون پکې کړی و.

د يادو کسانو له ډلې به له ۳۰۰ زيات کسان د کابل پوهنتون د ماسټري پروګرامونو ته لار پيدا کړي.

د لوړو زده کړو وزارت علمي معين دوکتور لطف الله خيرخواه له يادې ازموينې د څارنې تر څنګ، د ازموينې ګډونوالو ته د بريا هيله وکړه او د ازموينې د روڼتيا په اړه يې ډاډ ورکړ.



د لوړو زده کړو وزارت علمي معين له استادانو مننه وکړه او ويې ويل، چې اوس د دې وخت رارسېدلی چې د علم د پرمختګ لپاره تر پخوا زياته هڅه وکړو.

## سرلیکنه

کله چې د مجاهدینو په قربانیو او د الله تعالی په نصرت سره په افغانستان کې د امریکا او د هغې د متحدینو اشغال پای ته ورسېد، نو ګڼ شمېر افغانانو او علمي کادرنو د ناسمو تبلیغاتو په پایله کې، چې ګواکي ژوند یې په خطر کې دی، له افغانستان څخه ووتل. دغه افغانان پرته له دې چې له افغانستان څخه د وتلو او پردیو هېوادونو ته د کډواله کېدو فردي، ټولنیز، دنیوي او اخروي پایلې یې وسنجوي ځانونه یې له یوه نامعلوم برخلیک سره مخ کړل .

له بده مرغه له افغانستان څخه وتلي کسان مبهمو هیلو او خیالي ارمانونو غولولي، بهرني هېوادونه یې له فکري، تخصصي او بشري ځواک څخه د خپلو هېوادونو د ودانولو په برخه کې استفاده کوي او په بدل کې یې د خپلو اتباعو په شان حقونه هم نه ورکوي او په درنه سترګه نه ورته ګوري .

دا په داسې حال کې ده، چې د لوړو زده کړو وزارت په هڅو په دې وروستیو کې یو شمېر هغه استادان، چې بهرنیو هېوادونو ته د ماسټرۍ او دوکتورا لپاره تللي وو او همدارنګه ځینې نور استادان چې د تحول پر مهال له هېواد څخه بهر وتلي وو، بېرته هېواد ته راستانه شول .

تېره اونۍ د همدغو راستانه شویو علمي کادرونو لپاره په لوړو زده کړو وزارت کې د ښه راغلاست په پار، شانداره مراسم نیول شوي وو، چې شاوخوا ۱۰۰ تنو راستانه شویو علمي کادرونو پکې ګډون کړی وو. د لوړو زده کړو وزارت مشرتابه راستانه شویو علمي کادرونو ته د ښه راغلاست تر څنګ، د هغوی دغه اقدام یې د وطنپالنې او له خپلو خلکو سره د مینې نښه وبلله او د هغوی دغه کار یې وستایه. دغه راز هغوی ته یې ډاډ ورکړ، چې د ا.ا.ا د لوړو زده کړو وزارت به له خپلو امکاناتو سره سم هغوی ته د خدمت، تدریس او باعزته ژوند زمینه برابره کړي.

همدارنګه یاد علمي کادورنه خپل هېواد ته د راستنېدو او په خپل هېواد کې د عزتمند ژوند کولو له امله خوښ وو او ژمنه یې وکړه، چې په خپل هېواد کې به د ځوان کهول د روزنې په پار، خپلو خدمتونو ته دوام ورکړي.

په درناوي

اداره

سیرت نبوی

نبوي سيرت



ترتیب: مدیر جان کوټوال

## د عقبې دويم بيعت پاتې برخه!

### د بيعت په ستونزو ټېنګار:

وروسته له دې چې د بيعت د مادو په هکله خبرې پای ته ورسېدې او خلکو د بيعت کولو شروع کوله؛ نو د اسلام دوه لومړني کاروانيان، چې د (۱۱) او (۱۲) کال د حج په موسمونو کې مسلمانان شوي وو، يو د بل پسې پورته او خبرې يې وکړې، تر څو خلک له بيعت څخه د را ولاړېدونکو ستونزو ته متوجه او په رڼو او ليدلو سترګو بيعت وکړي.

او هم ځانونو ته معلومه کړي، چې په څومره اندازه خلک قربانۍ ته تيار او په هوډ کې اوسپنيز دي.

ابن اسحق ليکي: کله چې خلک د بيعت لپاره راټول شول؛ نو عباس بن عبادة بن نضله وويل:

ای خلکو! پوهيږئ چې په څه له دې سړي سره بيعت کوئ؟

خلکو وويل: هو!

عباس وويل: تاسې ورسره وعده کوئ، چې د سرو او تورو ټولو خلکو سره به جنګ ته ملا تړئ!؛ نو که تاسو فکر کوئ چې مالونه موتالا او مشران مو ووژل شول، بيا به يې دښمن ته سپارئ؟؛ نو همدا اوس يې پرېږدئ، سوګند په الله جل جلاله که تاسې دا کار وکړئ، په دنيا او اخرت کې به رسواء شئ او که هوډ مو کړی وي، چې شوې وعدې ورسره پوره کوئ؛ نو درسره بوېئ ځئ.

سوګند په الله جل جلاله همدا مو د دنيا او اخرت ګټه ده.

ټولو خلکو وويل: موږ يې د مالونو د چور کېدلو او د مشرانو د وژل کېدلو سره منوو، خو ای د خدای رسوله! زمونږ بدله به څه وي؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: جنت،

ټولو وويل: لاس دې را اوږد کړه!، رسول الله صلی الله عليه وسلم لاس وړاندې او ټولو بيعت وکړ.

د جابر رضی الله عنه روايت په دې ډول دی: موږ د بيعت لپاره پورته شوو، چې زموږ تر ټولو کشر ځوان اسعد بن زرارة د رسول الله صلی الله عليه وسلم لاس ونيو او وېې ويل: يثربيانو! لږ درنګ وکړئ! مونږ لا دده په خاطر اوږده مزلونه نه دي کړي، يوازې همدومره پوهېږو چې د خدای رسول دی.

او په دې هم پوهېږو چې له ده سره ملګرتيا د ټولو عربانو سره د پرېکړې معنا لري، مشران به مو ووژل شي او تاسې به ټول په جنګي تورو کې رانښکيل شي؛ که دا شيان منلی شئ؛ نو له دې سړي سره انډيوالي وکړئ، الله به ښه اجر درکړي.

او که په خپلو ځانونو ډارېږئ؛ نو همدا اوس يې پرېږدئ!

کيدای شي چې الله پاک مو د بې وسۍ عذر ومني.

## د بيعت ترسره کېدل:

اوس چې د بيعت په مادو موافقه وشوه، ټينګار پرې وشو او په لاس ورکولو بيعت شروع شو.

جابر رضی الله عنه وايي: د اسعد بن زرارة له خبرو وروسته ټولو خلکو وويل: د رسول الله صلی الله عليه وسلم له لاس څخه خپل لاس ليرې کړه! سوګند په الله جل جلاله چې نه به دا بيعت اوس پرېږدو او نه به يې وروسته مات کړو.

همدا وو چې اسعد ته د اولس اوسپنيز هوډ معلوم او د قربانۍ لپاره د تيارۍ اندازه يې ورته معلومه شوه.

ابن اسحق ليکي: بنو نجار قوم وايي، لومړی بيعت کوونکی ابو امامة اسعد بن زرارة و.

او له دې وروسته عام بيعت پيل شو.

جابر صاحب وايي: موږ يو - يو سړی پورته او رسول الله صلی الله عليه وسلم راڅخه بيعت او تعهد واخيست او په مقابل کې يې د جنت وعده راکړه.

هغه دوه ښځې چې هلته حاضرې شوې وې، يوازې په ژبه ورسره رسول الله (ص) بيعت وکړ، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم هيڅکله پردۍ ښځې سره په لاس بيعت نه دی کړی.

دولس (۱۲) مشران:

کله چې د بيعت کار بشپړ شو؛ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د خلکو په خوښه دولس(۱۲) مشران چې نهه(۹) تنه خزرجيان او درې(۳) تنه له اوسيانو څخه وټاکل شول، ترڅو د خپل قوم او د معاهدې د موادو د عملي کولو څارنه وکړي.

کله چې مشران معلوم شول؛ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم له دوی څخه د مشرۍ ځانګړی بيعت په دې ټکو واخيست.

تاسې به د خپل قوم د وګړو د کړنو څارنه هغه ډول کوئ، لکه څنګه چې د حضرت عيسی ع ملګرو دا څارنه په غاړه اخيستې وه او زه د ټولو مسلمانانو څارونکی يم.

ټولو وويل هو!



## معين مالی و اداری با هیئت اداره اصلاحات ...

قابل ذکر اســت که اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی، بر ا ساس م صوبه شماره ۱۴ کابینه ا.ا.ا، پرو سه ساده سازی امور اداری در ادارات دولتی را آغاز کرده است.

## د مالي او اداري معينيت د رئيسانو انسجام ...

او د ياد معينيت اړوند رياستونو د ځينو مهمو موضوعاتو په اړه بحث او پرېکړې وشوې.

همدا راز د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معين خلکو ته د غوره خدمتونو پر وړاندې کولو او په چارو کې د اسانتياوو پر رامنځ ته کولو ټينګار وکړ او د خدماتو وړاندې کولو په برخه کې يې مسؤلينو ته لازمې سپارښتنې وکړې، ناسته د خير په دعاء سره پای ته ورسېده.

## د ديني جامعاتو او تخصصاتو لوی رياست ودانۍ...

(تفسير، حديث، دعوت، فقه او قضا او د اسلامي اقتصاد او بانکداري) له کانديد استاذانو ازموينه واخېستل شوه."

دغه راز سرپرست وزير زياته کړه، چې په نږدې راتلونکې کې به د ديني جامعاتو او تخصصاتو رياست چارو پيلېدو خبرتيا هم له درنو هېوادولو سره شريکه شي.

په غونډه کې د کانونو او پطروليم سرپرست وزير شيخ شهاب الدين دلاور د ديني جامعاتو او تخصصاتو رياست ودانۍ پر پرانېسته خوښي څرګنده کړه او وېې ويل، " د هېواد ابادي او پرمختګ په تعليم او تحصيل پورې تړلې ده او نن سبا تر هر څه وړاندې تعليمي او تحصيلي ډګرونه غښتلي کول په کار دي.



نوموړي زياته کړه، په قرانکريم کې د اقراء(ولوله) لفظ راغلی او دا د ټولو مسلمانانو لپاره ده؛ نو بايد نر او ښځې عصري او ديني زده کړې وکړي، ترڅو ژر د سيالو هېوادونو په کتار کې شامل شوو."

دغه غونډه د خير په دعاء او ياد رياست کې د ا.ا.ا بيرغ او لوړو زده کړو بيرغ په پورته کولو سره پای ته ورسېده.

## هېواد ته راستانه شوي علمي کادرونه وستايل...

او بهرنيو اړيکو رئيس ډاکټر نظر محمد عرفان وکړه او وروسته د لوړو زده کړو وزارت د خصوصي محصلانو رئيس انجنير سيد اسماعيل روحاني د ياد پروګرام اجنډا تشريح کړه او د دغه وزارت ځينو لاسته راوړنو او راتلونکو پلانونو ته يې اشاره وکړه .



ياده غونډه کې د لوړو زده کړو سرپرست وزير الحاج مولوي عبد الباقي حقاني د هېواد د تحصيلي نظام پرمختګ او معياري کولو ته په اشارې سره وويل: «د يوه هېواد ودانول او له نورو هېوادونو سره يې سيال کول، په يوه قوي او معياري تحصيلي نظام پورې تړلي دي».

نوموړي زياته کړه، چې د څلورو لسيزو جګړو په ترڅ کې مو د هېواد هره برخه زيانمنه شوې، چې د هرې برخې د بيارغونې لپاره کار پکار دی او د هرې برخې کاري او بشري ځواک د لوړو زده کړو له لوري تموېلېږي.

دغه راز له ټولو استادانو يې وغوښتل، چې د هېواد بچيان په ديني او ملي مفکوره وروزي، تر څو ټولنې ته په ديني او ملي ارزښتونو سمبال شخصيتونه وړاندې شي .

همدارنګه د لوړو زده کړو سرپرست وزير له بهرنيو هېوادونو بېرته راستانه شويو استادانو ته د ښه راغلاست تر څنګ، له هېواد سره د هغوی مينه وستايله او همدارنګه د هغو علمي کادرنو قدرداني يې وکړ، چې د هېواد د دښمنانو له منفي تبليغاتو سره سره په هېواد کې پاتې شوي او د خپل ولس د بچيانو روزنه کوي .

دغه راز د اوبو او برښنا وزارت ستر سلاکار دوکتور فاروق اعظم د خپلو خبرو په جريان کې وويل: « پلار د خپل اولاد خېټه وړه کوي، خو استاد يې ماغزه وړه کوي او معنويت يې روزي».



نوموړي هېواد ته راستانه شوي استادان اتلان وبلل او د ټولو هغو استادانو کور ودانی يې وکړ، چې بهر ته د تللو امکانات لري، خو د خپل ولس د خدمت په خاطر په هېواد کې پاتې شوي دي.

وروسته د دولتي پوهنتونونو په استازيتوب د کابل پوهنتون رئيس دوکتور اسامه عزيز د مسؤلينو او ولس تر منځ د اړيکو په پار، دا ډول تشويقي پروګرامونه اړين وبلل.



همدارنګه له بهرنيو هېوادونو څخه د راستانه شويو استادانو په استازيتوب د کابل پوهنتون استاد پوهنمل کيومرث پولاديان، د کابل طبي پوهنتون استاد پوهينار خالد جان رضايي، د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون استاد دوکتور پوهنمل شاه رخ رؤفي او د شيخ زايد خوست پوهنتون استاد پوهنيار عبد اللطيف رحيمي په خپل وار د لوړو زده کړو وزارت له مشرتابه څخه مننه وکړه، خپلې تجربې او وړانديزونه يې شريک کړل.

د يادولو وړ ده، چې د پروګرام په پای کې ټولو راستانه شويو استادانو ته د لوړو زده کړو وزارت له لوري ډالۍ ورکړل شوې او ناسته د خير په دعا سره پای ته ورسېده.



## په شپږو وروستيو مياشتو کې د خصوصي محصلانو چارو رياست ۵۰ زره تحصيلي سندونه طی مراحل کړي دي




د لوړو زده کړو وزارت د خصوصي محصلانو چارو رياست په شپږو وروستيو مياشتو کې ۵۰ زره تحصيلي سندونه، مکتوبونه، د پايلو جدولونه او ادارو استعلامونه طی مراحل کړي دي.

د لوړو زده کړو وزارت د خصوصي محصلانو چارو رئيس انجنير سيد اسماعيل روحاني د ياد رياست له کارکوونکو سره په ناسته کې د يادو شمېرو د يادونې تر څنګ، په دغه رياست کې پر روڼتيا، څارنې او کاري چټکتيا ټينګار وکړ.

په دغه ناسته کې د خصوصي محصلانو چارو رئيس له اړوندو کارکوونکو څخه د خصوصي تحصيلي بنسټونو د اسنادو د طی مراحل کولو راپور واورېد او هغوی ته يې د لا غوره خدمتونو د وړاندې کولو سپارښتنه وکړه.

انجنير سيد اسماعيل روحاني وويل: «په کارونو کې مو همغږي، دقت، سرعت او باور زيات کړي، تر څو د خصوصي تحصيلي بنسټونو د محصلانو لپاره غوره خدمتونه وړاندې شي».

نوموړي زياته کړه، چې په مسلکي ډول د کار پېژندنه، څېړنه او په صادقانه او رښه ډول د خصوصي تحصيلي بنسټونو ارزونه د جعل کارۍ مخه نيسي او هيڅ بنسټ به ونه شي کړای چې خيالي محصلين ولري.

## د زابل د لوړو زده کړو مؤسسه کې د کيفيت لوړولو يو ورځنی سيمينار داير شو

د زابل د لوړو زده کړو مؤسسه کې د لومړي ځل لپاره د کيفيت لوړولو يو ورځنی سيمينار داير شو.



ياد سيمينار د زابل د ميرويس نيکه لوړو زده کړو مؤسسې د تضمين کيفيت او اعتبار ورکولو کمېټې غړي پوهنيار بشير الله دانشيار لخوا چې وړاندې يې د لوړو زده کړو وزارت اړوند د تضمين کيفيت او اعتبار ورکولو رياست څخه په ياده برخه کې زده کړه کړې وه ترسره شو، او د اعتبار ترلاسه کولو په لارو چارو يې مفصل معلومات وړاندې کړل.

همدا راز د زابل ميرويس نيکه د لوړو زده کړو مؤسسې رئيس روح الله مشال د کيفيت لوړاوي او د اعتبار اخيستنې پروسې په ترسره کولو تاکيد سربېره وويل، چې دې ته ورته سيمينارونه بايد دوام ومومي.

په دې سيمينار کې علمي مرستيال، مالي او اداري مرستيال، د پوهنځيو رئيسانو، د ديپارټمينټونو آمرينو، استادانو او ددې مؤسسې کارکوونکو ګډون درلود.



### مؤسسه تحصیلات عالی ملالی مورد ارزیابی...

تحصیلی خصوصی وزارت تحصیلات عالی به عهده داشته و بخش های مختلف مؤسسه تحصیلات عالی خصوصی ملالی را مورد ارزیابی قرار داد.

هیئت نظارت و ارزیابی وزارت تحصیلات عالی، حین ارزیابی مؤسسه مذکور نظریات و پیشنهادات مسؤلان، استادان و محصلان مؤسسه تحصیلات عالی ملالی را استماع نموده از آنان خواستند که برای ارتقای نظام تحصیلی در کشور همکاری های خود را بیشتر نمایند.

### نشست شورای معینیت علمی ...

در این نشست، مروری کوتاه بر فیصله های نشست گذشته شورای مذکور صورت گرفته و معین علمی وزارت تحصیلات عالی، از اعضای شورا خواست که برای عرضه خدمات بهتر به مردم تمام امور کاری شان را در پرتو اسناد تقنینی انجام دهند.

سپس طبق آجندا، در باره ترفیع برخی استادان پوهنتون ها، چگونگی تزئید تشکیلاتی و تخصیص بست های علمی و اداری پوهنځی ها و دیپارتمنت ها غرض شامل ساختن در کُد رشته های کانکور و چالش های بعضی نهاد های تحصیلی خصوصی بحث شده و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

اعضای شورای معینیت علمی وزارت تحصیلات عالی همچنان، روی موضوعات مهم دیگر در پوهنتون های دولتی و شفاخانه های کادری تبادل نظر نموده تصامیم مورد نیاز را روی دست گرفتند.

### غوره ويناوې!

را ټولوونکی: ناصر خان شېرزی

حضرت ابو ذر رضي الله عنه ته د رسول الله صلي الله عليه و سلم وصيتونه!

۱. د الله جل جلاله څخه ووېرېږه!؛ بې شکه دا وېرېدل( تقوا) به ستا هر کار ته ښايست ورکړي.
۲. په خپل ځان د قرآنکريم تلاوت او د الله جل جلاله ذکر لازم کړه!، بې شکه دا به ستا لپاره په اسمانونو کې يادونه او په ځمکه کې نور شي.
۳. اوږده چوپتيا غوره کړه!، بې شکه دا چاره شيطان شړي او دا به په ديني کارونو کې ستا لپاره مرسته کونکی شي.
۴. له زياتې خندا څخه ځان وژغوره! ، بې شکه دا(د غفلت خندا) زړه وژني او د مخ نور ختموي.
۵. حقه وينا کوه! ،که څه هم ترخه وي.
۶. د الله جل جلاله په اړه (ديني اعمالو کې) د چا له ملامتيا څخه مه وېرېږه!
۷. د خلکو پر عيبونو پرده واچوه!
۸. د الله تعالی سره هېڅ شريک مه نيسه!، که څه هم پرې، پرې يا وسوځول شې.
۹. په قصده سره فرضي لمونځ مه پرېږده!، که چا په قصد سره لمونځ پرېښود ، د الله عزوجل له ذمې څخه وځي.
۱۰. شراب مه څښه! ، ځکه شراب د ټولو بدو کارونو کيلي ده.



## د اسلامي حاکمانو، اخلاق او صفات

ليکوال: الحاج مولوي عبدالباقي حقاني

### ۹- احسان کول

د عدل سره احسان کول هم اړين صفت دی، ځنګه چې الله تعالی په عدل سره امر کړی دی؛ نو ورپسې يې د احسان کولو امر هم کړی دی. الله تعالی ته معلومه وه، چې د خلکو کار يوازې په عدل سره سمون خوري؛ نو امر يې وکړ، چې تاسو د عدل نه وروسته احسان هم وکړئ!

له خپل رعيت سره په احسان کولو د رعيت زړه لاسه ته راځي او تا سره به د محبت څرګندونه وکړي، د احسان پر مټ د رعيت خپلول تر هغې ډېره بقا لري، چې په سختۍ سره د رعيت د خپلولو هڅې وشي.


د پاچا لپاره دا مناسب دي، چې په رعيت کې خپل احسان د هغه نه بند نه کړي، څوک چې د ده پر وړاندې بد کوي او په احسان کې دې د خپل رب تعالی پسې اقتداء وکړي؛ ځکه، چې الله تعالی ټول مخلوق پيدا کړی او ټولو باندې يې احسانات کړي، حواس يې پوره ورکړي، خپل نعمتونه يې پرې لورولي، د دوي لذتونه يې پوره کړي په داسې حال کې، چې دوي د ټولو احساناتو سره سره بيا هم د الله تعالی حکمونه ندي عملي کړي او نه يې د الله تعالی حق عظمت بيان کړی دی.

### د احسان عموم

د کوم احسان په اړه چې امر شوی دی دا عام دی د خاص شخص او خاص جنس پورې ځانګړتيا نلري.

الله تعالی په حق کې په هر شي کې احسان عام کړی کله، چې تاسو قصاص اخلئ؛ نو په ښې طريقې سره يې سره قصاص واخلئ.

کله چې تاسو يو حيوان هم حلالوئ؛ نو په ښې او احسني طريقې سره يې حلال (زبح) کړئ، چاړه ورته ښه تېره کړئ او حلال شوی حيوان په کرار پرېږدئ، چې سا ترې اووځي.



علامه موصلي شافعي رحمه الله ليکلي دي: نبي کريم (ص) د قتل او ذبحه ذکر وکړ، ځکه دا دواړه حالته د حيوان سره زياتی دی او له دې حالتونو نه وروسته حيوان سره د احسان په نوم کومه وجه نده پاتې؛ نو کله چې په داسې نهايي ضرضري حالتونو کې انسان ته د احسان په اړوند امر وشي؛ نو له دې نه پرته په عامو صورتونو کې به څنګه احسان کول مامور به نه شي، معلومېږي دا چې احسان کول په هر حال کې ماموربه دی.

په شريعت کې احسان کول د هر ساه کښ سره د اجر او ثواب لامل کېږي، همدا رنګه د هر ساه کښ پر وړاندې ظلم د سزا او د عقاب سبب ګرځي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

يو کس په لاره روان ؤ، چې زيات تږی شو، يو کوهی يې پيدا کړ او ورښکته شو اوبه يې وڅښلې او بيا ترې راوخوت، يو سپی يې وليد، چې له ډېرې ګرمۍ او تندې يې ژبه راويستلې او لمدې خټې خوري؛ نو دغه کس کوهي ته ښکته شو او په خپله موزه کې يې د سپي لپاره اوبه را پورته کړې او سپي يې په اوبو موړ کړ، الله تعالی د ده دا عمل قبول کړ او بخښنه يې ورته وکړه. صحابه کرامو رضی الله عنه عرض وکړ، چې ای د الله تعالی رسوله! آيا زمونږ لپاره د حيواناتو سره په احسان کولو کې هم اجر شته؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: د هر ژوندي سره په احسان کولو تاسو لپاره اجر او ثواب شته.

امام نووي رحمه الله يې په تشريح کې وايي: د دې معنی دا ده، چې د هر ژوندي حيوان سره په احسان کولو کې تاسو لپاره اجر شته؛ که هغه د اوبو په ورکړې سره وي او يا په بل ډول احسان وي.

او بيا ليکي: په دې حديث شريف کې د قدر وړ حيوان (چې شارع د دې په وژنې سره حکم نه وي کړی) سره په احسان کولو کې ترغيب دی او د کوم حيوان په قتل کولو سره، چې شارع حکم کړی؛ نو د دې حيوان په وژنه کې به د شارع د حکم اتباع کېږي.

همدا رنګه حديث شريف کې راځي، چې د بني اسرائيلو يوې زنا کارې ښځې په سختې ګرمۍ کې يو سپی وليد ، چې له ډېرې تندې نه له کوهي نه تاويده او خپله ژبه يې راويستې وه، زنا کارې ښځې په خپلې موزې کې له کوهي نه اوبه راوويستې او سپي يې خړوب کړ؛ نو الله تعالی د دې احسان په سبب سره هغې ښځې ته بخښنه وکړه.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: يوه ښځه له دې وجې نه جهنم ته داخل شوه، چې دې ښځې خپله پيشو بنده کړې وه، اوبه او خوراک يې ورته نه ورکول او نه يې خوشې کوله، چې په خپله وګرځي او ځانته خوراک پيدا کړي تر دې، چې مړه شوه، نو الله تعالی په دې عمل سره جهنم ته داخل کړه.